د برتانوي سامراج په ضد د مزاحمت شعريات : ملا سلام بابا دانتهونيو ګرامسي د منورينو په قطار کښې

# POETICS AS RESISTANCE IN THE FACEOF BRITISH EMPIRE; MULLAH SALAM BABA AS GRAMSCI'S ORGANC INTELLECTUAL

1. Dr. Barkat Shah Kakar, PhD, Assistant Professor, Department of Pashto University of Balochistan Quetta Email: Email: drbarkat.uob@gmail.com

**Abstract:**

*Mullah Salam Baba (1883 -1974) is one of the prominent anti-imperialist Pashto poets of the 20th century South-Pakhtunkhwa. Born during heydays of British Imperialism, he questioned socio-cultural and political control of the British Empire. This paper tends to study his poetry and struggle in the conceptual framework of the Marxist intellectual Antonio Gramsci's Organic intellectual. The paper unveils that Mullah Salam Baba, as an ordinary religious scholar, living in an isolated and distant mountain "Kozak" that is westernmost Pak-Afghan Border area of Killa Abdllah. He has used poetry to communicate with people which ignited the spirit of seeking freedom. He problematized the tribal codes that enchain Pashtuns and presented a vision of modern nation state stemmed by Amir Ammanullah Khan (1892-1960) in 1919. His struggle earned him to be called "Baba" by ordinary Pashtuns.*

**Keywords:** ***Organic Intellectual, Cultural hegemony, Pashtun Nationalism, Politics, Anti-imperialism, British Empire.***

پس منظر:

دانشوران، منورين او روشن فکران څوک دي؟ دا يو داسي سوال دے چي د نړۍ هره ټولنه او اولس خپل ځواب ورته لري. انساني ټولني د خپل رغښت او مخصوص ټولنيز او معاشي تاريخ په سوب د وخت او ځاى د غوښتنو په ترڅ کښې د منورينو، دانشورانو ياروشنفکرانو تعين کوي. پښتني ټولنه چونکه د تاريخ په اوږدو کښې د شفاهي روايت برخه پاتي شوې ده، او اوس هم زموږ پر ټولنيز نظام د شفاهي روايت ولاړ دے، دلته د روشن فکر، دانشور او منور کس په عمومي توګه هغۀ چا ته وئيل کيږي چي وراشه (د خطاب کولو هنر) يې زده وي، د خلګو تر مينځ د جوړ جاړي يا تصفيې عمل پوهه وي، د خپلي سيمي، اولسونو په سياسي ، ټولنيز او کلتوري تاريخ خبر وي، او تر ټولو دا چي و ټولني ته ور پيښ پو باهرنيو او داخلي ستانزو يې پام (فهم) او نظر وي.

دانشور، عقلمند، پوهه يا ځيرک کومه صيغۀ چي په عمومي توګه د شفاهي ټولني په تاريخي لاشعور کښې غزوني کوي هغۀ په عمومي توګه د ليکل شوي يا تحريري کلتور سره څه نا څه اړيکه حتما لري. ډاکټر محمد حسن کاکړ په خپل اثر کښې د هم دې خبري سپيناوى کړے دے چي روشنفکران څوک دي؟. هغۀ ليکي:

"په افغانستان کي په ټولو دورو کي يو شمېر افراد د فکري مخکښانو په حېث موجود وو دغسي افراد په ويدي دوره کي د ريشا نو په نامه يادېدل، په اوستائي دوره کي زرتشت د همدغي ډلي يوډېر وتلی شخص ؤ، ... داسي هم په بودائي دوره کي بودائي راهبان په نظر کي ونيسئ، په اسلامي دوره کي علما مذبي پيران ، فيلسوفان، صوفيان، شاعران او تذکره ليکونکي په هم دغه قطار کي راځي". (1)

**دنولسمي صدۍ په پای کښي او د شلمي صدۍ په اولنيو کښي چي کوم افکار او نظريات د معاشي او ټولنيز انصاف، نسل، صنف ، رنګ او جنس په حقله راپورته شول هغۀ د پخوانی او روايتي ټولني ډېرافکار او نظريات سره تيت و پرک کړل. مارکس په لومړي ځل فلسفې ته سياسي شکل ورکړ او انسانان يې و دې خبري ته ولمسول چي عقلي علوم چي چيري انسان ته ټېکنالوجي ورکړۀ او انسان يې د فطرت له جبره خلاص کړَ هم داسي بائيد هغۀ ټولنيز او سياسي حقيقتونه هم د سائنسي اصولونو پر بنسټ و ورشل شي. فلسفه نور بائيد د انسانانو حالات بدل کړي او کوم ټولنيز حقيقتونو چي فطري او قدرتي بڼۀ خپله کړې ده هغۀ بائيد د سوالونو او پوښتنو تر بهيَ را تېر شي.**

دشلمي صدۍ لومړی برخي د نړۍ د ډېرو سترو روښنفکرانو، **منورينوو، دانشورانو، پوهانو او عالمانو روزنه کړې ده، ځکه خو هم دغۀ صدۍ ته په عام توګه د انقلاباتو يا بدلونونو صدۍ وئيل کيږه (2).**

د پښتنو پر سيمه د شلمي صدۍ د سياسي او تهذيبي بدلونونو ډېر ژور اثرات ځکه ول چي د برتانوي هيند پر غربي پوله مېشته پښتانه په انتظامي توګه سره ويشل شوي وو، خو تر شايي بيا هم يو داسي وطن ؤ چي د شلمي صدۍ په دويمه لسيزه کښي يې د انګريزي استعمار د مرييتوب له جغۀ خپله غاړۀ ازاده کړې وه. د انګريزي سامراج هم دغۀ موخۀ او تګلاره وه چي د افغانستان څخه را جلا کړل شوي سيمي په کلتوري او ژبني توګه د هندوستان سره داسي و موښلوي چي هغوی د باقي مانده افغانستان سره خپل کلتوري، تاريخي، ژبني او ملي تړون کله هم احساس نه کړي(3)

د اټالوي مارکسي فلسوف " انتهونيوګرامسي" په نظر کښي دانشور څوک دی؟ .

دانشوران بائيد چا ته ؤ وئيل شي،په دې حقله د شلمي صدۍ د اټلي ځوان مارکسي دانشور انتهونيو ګرامسي[1] نظرياتو د بدلون پر تهيوريانو ژوري اغيزې کړي دي او پکښي په زړۀ پوري اضافي يي

---

[1] ګرامسي په کال ۱۸۹۱ کښي د اتالیې (اټلي) په يوه ښارګوټي کاګلياري سارډينا کښي زيږېدلی دی (4). د ګرامسي ژوند د کړاوُنو ډک ؤ، هغۀ د مارکسي فکر سره د نزدې تړون پر بنياد د اټلي بدنام ذمانه آمر مسوليني د ۱۹۲۵کال څخه تر ۱۹۳۵ پوري په جيل کښي بنديوان کړئ ؤ، په جيل کښې د ټي بي په رنځ اخته شو ، هسپتال ته يو وړل شو، او دوه کاله وروسته د ۴۶کلونو په عمر کښې مړ شو او په روم کښي يې د مړيني وروستي رسومات تر سره شو.

کړي دي. هغهٔ د شلمې او يويشتمې صدی تنقيدي نظرياتو بنسټګر منل کيږي، پر فلسفه، سياسي نظرياتو، سوشيالوجي، تاريخ او ژبپوهنې بې ژور اثرات پرې ايښي دي. ګرامسي د ټاندي ځوانی اووه کاله د اټاليې د آمر مسوليني په جېل کښې تېر کړي دي،او په زندان کښې چې هغهٔ کومه ډائري ( Prison Notebooks) ليکلې ده هغهٔ د شلمې صدی پر ټولنيو علمونو لويه ساختياتي اغېزه اچونکې ليکنه وه.

د شلمې صدۍ پر سياسي نظرياتو د مارکس ژور چاپ موجود پاتې شوے دے ، هغهٔ په تکرار سره ليکلي دي چې انساني ټولنه کښې غالب نظريات د لوړې (حاکمې) طبقې پيدا کړي وي، خو د شلمې صدۍ مارکسي دانشور انتهونيو ګرامسي هم دغه پديده (مظهر) ته له يوه بله پلوه کتلي دي او د مارکس د دې نظر ښخه يې د "کلتوري حاکميت نظريه (Cultural Hegemony) راکشيدکړې ده.
د ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ پر "کلچرل اسټډيز" باندې د ګرامسي د فکر ښخهٔ ژورې اغېزې وکړې،

د ګرامسي د نامياتي[2] (ژوندي) دانشور (Organic Intellectual) تصور کوم چې ليکوالان، شاعران يا د قلم خاوندان و سياسي ميدان ته راجلبوي، دادريځ لري چې يو دانشور او ليکوال بائيد په اولس کښې د اولس سره ؤ اوسيږي، او د بدلون کوم عمل چې د هغهٔ ارمان دی، هغهٔ د خپلې دا خلي تجربې سره سره په اولس او ټولنه کښې هم محسوس کړي. ګرامسي کلتور او ژبه د بدلون يوه ستره وسيله ګڼي، د هغهٔ د فکر په تاثر کښې ډېرو دانشورانو خپل کار ته سياسي بڼه ورکړهٔ، ولې چې ګرامسي دانشور هيڅکله غير جانبداره نه ګڼي،د هغهٔ ليکني يا خو د مقتدر طبقې په حق کښې وي يا بيا د هغهٔ د مزاحمت کولو شعوري يا لاشعوري هڅې کوي. (5)

د يوه آرګنيک (خودرو) دانشور د کردار کړهٔ وړهٔ:

يو نامياتي يا ژوندی دانشور په اولس کښې اوسيږي، د اولس ښخه زده کړهٔ کوي، او په يوه جدلياتي اومکالماتي چاپېريال کښې د اولس سره هغهٔ استبدادي حالات او حقيقتونه په ګوته کوي کوم چې په عام توګه و اولس ته استبداد، جبر يا استحصال نه ښکاري. ګرامسي فکر درلود چې د نوي ذماني هنرمندان، د ښوونځي، کالج يا پوهنتون استاذان، طبي ډاکټران،مذهبي مخکښان، ملايان او په اولسي ادارو (پبلک سيکټر) کښې کار کونکي بائيد د خلګو سره پر هغو سياسي، ټولنيزو او کلتوري حالاتو وارشه/مکالمه پيل کړي د کوم په سوب چې د ډېرو انسانانو پر ژوند، ژواک، مالي او معاشي وسائلو د لاس د ګوتو په شمېر د مخصوصو ډلو يا ادارو اجاره داري وي. د بدلون ولوله لرونکي دغهٔ خلک په اولس کښې داسې ژوند کوي لکه ماهی په سمندر کښې.ليکواله ليس ټېکل چې د برتانيې په ايسټ انګليا پوهنتون کښې ښوونکې ده، د ښوونې او روزنې په عمل کښې د يوه خودرو دانشور ښوونکي خصوصيات څه داسې بيان کړي دي چې هغه به د ټولنې يوه برخه وي، د خلګو سره به آزادانه تعامل کوي، خپل معلومات، علم او تجزيه به هر وخت تازه کوي، د خپل کار او خپلو فکرونو او روئيو جاج

[2] په انګليسي کي دغهٔ ټکی د هغهٔ شي/څيز لپاره کاريږي چې د ژوند کولو بنيادي ماده پکښې موجوده وي او په جوړښت کښې د هائيډروجن او کاربن عناصر بنيادي توکي وي.

به اخلي، پر هغو ټولنيزو ،سياسي، کلتوري او معاشي ستونزو به سوالونه راپورته کوي د کوم په سوب چي په ټولنه کښي ناانصافي، غربت او محکومي وجود لري. (6)

دژوندي،خودرو يا نامياتي دانشورو څخه بيخي بېل او اپوټه انځور درواېتي دانشورانو دی کوم چي ديوه ليکوال،ډاکټر، ملا، شاعر، ناشر، سياسي غړي ، ليکوال ، اخبار چلونکي، وغيره په بڼه د حاکمي طبقي و کلتوري او سياسي حاکميت ته وده او نمو ورکوي. دغۀ کردار ته ګرامسي يپي (Yuppie)وئيلي دي، يعني د متوسط طبقي (مډل کلاس) هغۀ ځوانان چي نوکري پيدا کړي او بيا د مقتدر قوت لاس و پښي (دست و بازو) جوړ شي او د هغوی ژبه يې په خوله کښي غړيږي(7)

**قاضي ملا سلام بابا يو خودرو (ژوندی) دانشور شاعر:**

قاضي ملا سلام بابا د وخت و زماني له رويه د ګرامسي همزولی ؤ، هغۀ تر ګرامسي اتۀ کاله وړاندي يعني په ۱۸۸۳ کښي د چمن و ښار ته نژدې د کوړک په لمن کښي په يوه ډېرينه ناوه "ښاخۀ" کښي د ملا حبش په کور کښي سترګي رڼي کړي وې. په ختۀ اڅکزئي او په اڅکزي کي عشيزئي ؤ، د پيشي له لحاظۀ ملا او ديني عالم ؤ خو خپل ټول عمر يي د وطن د هغۀ شاه ليلی سندري وئيلي دي چي د ده په اند محکومه، خواره او د انګريزي استعمار تر لاس لاندي پاتي شوې ده. دوطن او د اولس د محکومی دغمه ډک احساس يي د شاعری موضوع ګرځيدلی دی. د برتانوي هيند دپائتخت څخۀ ليري د کوړک د غرۀ په يوه سر دره کښي هغۀ څه ليدلي، احساس کړي او دشاعری په ژبه بيان کړي دي چي د هغۀ د وخت ډېرو نورو ليکوالانو او شاعرانو نه دي بيان کړي. ډاکټرعبدالرؤف رفيقي صاحب د پلټني او ګرويږني مطابق ملا سلام بابا لومړی زده کړي د خپل پلار څخه کړي دي او د هغۀ وروسته يې بيا د نورو کتابونو لوستلو لپاره د پښين او کندهار و لورته مخه کړې ده. (8)

د قاضي ملا سلام تاريخي شعور او سياسي حالات:

په کوم کال چي قاضي ملا سلام بابا د کوړک په تاريخي ناوه "ښاخۀ" کښي سترګي غړولي وې، په هم دغۀ کال (۱۸۸۳) د کوټې ولورته د انګريزانو سور کوټي عسکر را کښېوتي ؤ، هغه د شپږو کلو ؤ کله چي دويم انګريز-افغان جنګ و موښت، د مېوند تاريخي جګړه پېښۀ شوه او پښتنو ته تاريخي بری ور په برخه شو، هم دغۀ بری ؤ چي په پښتنو کښي يې پر خپل ځان هغۀ بائللی اعتماد يو ځل بيا را بحال کړ، خو د دويم جنګه وروسته چي کله انګريزانو د امير عبد الرحمان خان خبره ومنله د او هغۀ يي د کابل پر تخت ومنلو له هم دې ځايه دګټلي جنګ هم هغۀ اثرات يو ځل بيا د تور امير د ويري او خوف په تيارو کښي ورک شول، خو د تاريخ په توره قبا کښي ځيني وخت سپين لمرونه هم ساتي، د امير عبدالرحمان خان د مرګه وروسته د هغۀ زوی حبيب الله خان باچا سو او د هغۀ د ناګهانه مرګه وروسته غازي امان الله خان تخت ته ورسيدی، لومړی يې د انګريزي سامراج څخه د خپلواکی جنګ و ګټلو او بيا يې د دې پاشلي قبائلئ وجود درا غونډولو لپاره په دوامداره توګه کار پيل کړ. هغۀ د يوه جديد، خپلواک او پر ټولنيز، معاشي او صنفي انصاف مبني افغان رياست او ټولنه په فهم کښي درلوده او د هغۀ لپاره لګيا ؤ خپل د ژوند شيبې او ورځي يې پر ځان ترخي کړې وې. خو د انګريزي سامراج پر زړۀ د غچ جګ شوے اغزی لا نه ؤ ختلی، هغوی د امير امان الله خان په ضد خصوصا

دهغهٔ د کلتوري او ټولنيزو اصلاحاتو په ضد پروپيګنډې او تبليغات پيل کړل چې پای غازي امان الله خان له وطنه بې وطنه شو او دغهٔ پر مخ تلونکی رياست و يوه پيشه غلٔه اواجرتي قاتل حبيب الله کلکاني يا بچه سقاؤ ته په حادثاتي توګه ورپاتي شو.

په عمومي توګه چې کله موږ د يوه شاعر د شاعرۍ څېړنه کوو نو د هغهٔ په شاعری کښې د جانان او د دوران غم لټوؤ، ځينو د جانان په غم کښې د زماني غمونه وېر کړي وي او ځينو بيا د زمانې په غم کښې ځان او جانان دواړه هېر کړي وي، خو د سلام بابا په شاعرۍ کښې موږ ته يک يواځې يوغم مخې ته راځي او هغهٔ دی د سلام بابا د خپل وطن د خپلواکی او د پښتون افغان ملت د سيالی غم دی. د هغهٔ د تخليقي يون څېړنه که وشي نو يوه بله خبره دا هم مخې ته راځي چې د خپلې لومړۍ شعري ټولګي "سوسن چمن" د ليکلو پوري د هغهٔ د شاعرۍ ډېري نخښې نښانې نه ښکاري، کله چې موږ دهغه د شعري ټولګو "سوسن چمن"، "طلب مذهب" او "زردانه در" پلټنه کوو نو هغهٔ د خپل وخت دسياسي، ټولنيزو او کلتوري ستونزو د ذکر سره سره د خپل شعري سفر ذکر هم پکښې کړے دے ، د کوم څخه چې دا خبره په ثبوت رسيږي چې " سلام بابا" د سوسن چمن د ليکلو ابتدا د خپل شعر د ابتدا سره کړې ده، اودا د۱۳۴۷ د هجري قمري کال دی چې د ميلادي کال ۱۹۲۹ سره سمون خوري. د دې څخه يوه خبره چې زموږ توجه راجلبوي هغهٔ دا ده چې ملا سلام بابا دشعر ليکني شعوري هڅې د اته څلوېښتو کلونو په عمر کښې کړي دي، يعني دا چې د شعر د ليکلو صلاحيت او ملکه که څه هم په هغهٔ کښې وه، خو تر کله چې د لته حالات ډېر استبدادي شوي دي، او د انګرېزانو د جاسوسانو او پراکسيانو په مرسته غازي امان الله خان له تخته نه دی کښته شوے ،تر هغهٔ پوري ملا سلام بابا د خپل شعر غښي د خپل تخليقي لاشعور په تير کش کښې خوندي ساتلي دي. يوه خبره چې روښانه کيږي هغهٔ دا چې ملا سلام بابا شاعري د سياسي او ټولنيز بدلون لپاره د يوې وسلې په توګه کارولي ده.

د انګريزي استبداد چل ول، او بيا د فارورډ پاليسی په ترڅ کښې چې کوم نوي ټولنيز ساختمان (سوشل سټرکچر) تراشل شوے ؤ، اولسي جرګه په سرکاري جرګه بدله شوې وه،ليويزفورس د اولسي لښکر ځای نيولی ؤ، په هر کلي او قصبه کښې دملا شوربازار غوندي وسوسه اچونکي او په هر کلي او ښارګوټي کښې خان بهادران راپيداشوي وو، د سلام بابا دوينا سره سم دکابل د انقلاب يعني د استقلال د جنګه وروسته چې د پښتون افغان وطن د سيالی، او خپلواکی کوم امکانات روښانه شوي هغهٔ د انګريزي استعمار په دسيسو او چل ول هغهٔ وخت د خاورو شومه شول کله چې د انګريز جاسوسانو د پښتنو په بيلابيلو سيمو کښې د امير امان الله خان په ضد داولس مذهبي جذبات ر وپارول چې پای يوه راهزن اواجرتي قاتل بچه سقاؤ د کابل و تخت ته لاره ومونډله او غازي امان الله خان په کال ۱۹۲۹کښې له خپل وطن څخه بل وطنه شو، انګريزي سامراج د دريم انګريز-افغان جنګ د ماتي غچ واخيست او يو تاند رياست چې مينځنې آسيا او سهيلي آسيا په مينځ کښې پروت ؤ او د يوه باسواده، شته من، او د جديد ګورننس نظام و لورته روان ؤ، د يوه غله او راهزن په ولکه کښې ورکړ چې بچه سقاؤ يا حبيب الله کلکاني نومېده.

دا يوه داسي غميزه ده چې د ملا سلام بابا پر لاشعور يې ژوره اغېزه کړې ده، او د دې واقعي وروسته هغهٔ د اولس د را بيدارولو، او په اولسي سويه د سامراج په ضد د اولس د را پارولو لپاره شاعري د

يوې وسلې په توګه کارولې ده. د هغهٔ د شعر ګوئي سلسله ددې وروسته پيل شوې ده. د هغهٔ د شعرونو څخه موږ ته ښکاري چې د کال ۱۹۳۲ څخهٔ هغهٔ سوسن چمن د چاپولو په کار پسې شوے دے ، يوې خواته ته مالي تنګدستي وه، بلې خوا ته د نړۍ د يوه داسې استعمار سره ډغره وه چې پر باچهۍ يې لمر نه پرېوتی، د سوسن چمن د چاپېدو په حقله يې په خپله شعري ټولګه "سوسن چمن" کښې ليکلي دي:

د نزدې ښهر ته ورغلم د کوټې سرې چاپ به کړمّ دا نظم و ترتيب

انګرېزانو نه پرېښووی دغه ذکر د سلطان امان الله دغهٔ لبيب(9)

د سوسن چمن د چاپېدلو وروسته چې کله هغهٔ ددې کتاب د چاپېدلو خوشحالي لمانځي نو موږ ته په دې کښې داخبره را ښکاره شي چې د هغهٔ د شاعرۍ د چاپولو تر ټولو مهمه موخه د خپل ملت د اصلاح سره سره هغوی د سيمې په مخصوصو استبدادي حالاتو خبرول هم وو، يعني استعماريت په داسې پېرايه کښې بيانول چې د شفاهي ټولنې په سياسي لاشعورکښې د انګرېزانو استعماريت د يوې مهمې مسئلې په توګه را څرګند کړي،د سوسن چمن د چاپه وروسته هغهٔ ليکي:

د سوسن دې زما و ستاسې مبارک سې مسلمان دې يو دبل سره کومک سې

ګوندې فېض فضل به واورې د پاسه لکه طور دوني[3] په قدر به کوړک سې(10)

دلته زموږ هغهٔ خبره نوره هم سپينېږي چې د اووه څلوېښتو کلونو په عمر کښې دشاعرۍ کولو او چاپولو اصل مرام هم هغهٔ يک يواځې يودی، يعني د خپل قام د راوېښولو لپاره د هغوی سره کلام. کول،استبدادي حالات د قدرت منشا نه بلکه د مخصوص تاريخي او سياسي حالاتو منطقي نتيجه ګڼل او د اولس ته بيانول د يوه دانشور اصل رول وي. لکه څه ډول حضرت موسا عليه اسلام د کوه طور څخه هداياتو د اخيستلو په رڼا کښې د فرعونيانو څخه خپل قام يعني "قبطيان" آزاد کړي وو، نو هم دغهٔ ډول سوسن چمن هم خپلواکۍ، ځان پيژندني، د خپل تاريخ سره د بيا وصل کيدو، او د خپل انساني وصف د بياموندلو ابيات دي چې ګوندي د پښتانه پريوه ټيرکې د راغونډېدلو او د مريېتوب دتوک څخه دخلاصون لاره و مومي.

ملا سلام بابا د يوه ژور فکره دانشور په حېث په ډېرې سختۍ او يکسوئي سره د انګريزي استعمار د سياسي نظام، د ګورننيس، تعليم، کلتور، جنګي چالونو، او مذهبي هدفونو حقيقت را څرګند کړے دے . زما په نزد دتاريخ په هم دې پړاؤ کښې به په سهيلي پښتونخوا کښې بل داسې د قلم او ميدان مبارز په نظر نه راځي چې د شلمې صدۍ په دربيمه او څلورمه لسيزه کښې يې د انګريزي نظام جبر اولس ته د يوې بنيادي مسئلې په توګه وړاندې کړی وي. هم دغهٔ وجه وه چې کله سوسن چمن چاپ شو نو په کال ۱۹۳۴ کښې د انګريزي سرکار له خوا ضبط کړل شو او په اوور وسوځول شو او هغهٔ د دې

[3] د ومـري

شعري ټولګي د خالق په تور زندان ته يو ړل شو. د ملا سلام بابا پر زړهٔ څه تېر شوي دي، په اوور کړېدلی احساس يې په دې شعر کښې نغښتی دی:

پرنګي سوسن چمن په اوور کې وا چاو          پر ما هم دابراهيم مصيت راغی(11)

سلام بابا ته دويم خوشحال خان هم وئيل کيږي، د هغهٔ په شعرونو کښې چې حماسي، اصلاحي او پښتني رنګ دی هغهٔ د وخت د مغول (انګريزسامراج) په ضد په پښتنو کښې د خپلواکی روح پوکل ؤ. لکهٔ څه ډول چې خوشحا بابا د خپل وخت ډېر پښتانه مخکښان د مغولو پر حلوه راټول شوي مګس ياد کړي دي هم دغهٔ ډول ملاسلام بابا په د انګريزي استعمار د هغو تالی سټو او عاقوبت نااندېښو خان بهادرانو، تحصيلدارانو، اوملکانو په ضدپه خپلو شعرونو کښې دېغور غشي وورولي دي چې د خپل وطن په مستعمر کولو کښې يې د يوه پردي قبضه ګر مرسته کړې وه او د انګريزي سامراج د فارورډ پاليسی نظام يې مخ په وړاندې بيولئ ؤ.

هغهٔ د خوشحال خان بابا د مشهور شعر پر تضمين يوه اوږده غزله ليکلې ده او ځای په ځای يې خپل ځان او د استبدادي حالاتو په ضد خپله مبارزه د خوشحال خان بابا د مبارزې توسيع (Extension) ښوولې ده.

عشيزو تر کاڼي کلک تر ګول نازک يم          مخا لف د فرنګي قانون تارک يم

زما وئيل د نن مغل د پاره ښهٔ دي          بل وروستی د ذماني خوشحال خټک يم

اور دي زما و کورته واچاوی بدنسله          هی ارمان کرياب په توره او توپک يم

په ښاخهٔ درهٔ کي مېشت عبد السلامه          کوړک مينه ، سوسن بوټی د اڅک يم(12)

قاضي سلام بابا د کوړک پر اوچت غرهٔ مېشت ؤ، خو هغهٔ په دې ګوښې کښې هم د هيند، افغانستان، برتانيه، جرمني، اټلي، او نورو ليري يورپي هېوادونو او هلته متحرک سياسي مخکښانوليدلي دي، په شعرونو کښې يې د خپل وخت په خصوصي توګه ددويم عالمي جنګ د ډېرو کردارونو نومونه په خصوصيت سره د هټلر او د چرچل ذکر په وار وار راغلے دی.

د شلمي صدیٰ د دريېمي او څلورمي لسيزي په کړکيچنو حالاتو کښې د چې د پښتنو بېړیٰ د حالاتو په کوم جبري ګرداب کښې را ګير وه د هغهٔ څخه د خلاصون لپاره سلام بابا د ځينو مخکښانو لاس نيوی لازمي ګڼي چې پکښې غازي امان الله خان، فخر افغان باچا خان او خان شهيد عبدالصمد خان په وار وار تکرار شوي دي.

چي سلطان امان الله په غزا ؤ وت          فرنګيان شو توبه ګاره فضل فضل

قرآني علم په نن ظلم کرياب شو          خان صاحب عبدالغفاره فضل فضل (13)

په کابل کښې چا اذان وکړی سحار يو          صف شو موږ د ّمخه نځوو لمونځ ګذار يو

مه ویدېږی پښتنو فرنګی وزي          کومکیان سره درېږي هندوبار یو

پښتانه امان الله غازي راویښ کړو          ترخي شپې رڼوي خان عبدالغفار یو.

دغازي امان الله خان دبیا تخت نیولو په حقله هیله من دې: وائي

که مور ورونو توري نن و برېښولي          فرنګی به وار خطا شي و توپان ته

سور بېرغ  غازیان راځي ږغ پرله وکړئ          خدای به تول و برې ورکړي و امان ته (14)

قرآني مسلماني لرم په زړۀ کي          زما اذان هر ځای له رسي له کوږکه(15)

پښتانه مي کړو را ویښ و فرنګي ته          خوري  ویني د کابل د انقلاب ما(16)

د سلام بابا په شعر کښي د انګریزي استعمار په ضد په هند کښي روانه مبارزه ستائل شوې ده، هغه که څه هم  د جمیعت علمائے هند سره هیڅ تعلق او تړون نه ؤ،اونه یې د هغۀ وخت دنورو مذهبي علماوو غوندي د دیوبند یا بل لوی مذهبي مرکز څخه تحصیلات کړي وو،خو د هغۀ جهان بیني او د نړی اوسیمي پر سیاست نظر دومري ژور او خپور پاتي شوے دے چي د خپل وخت بل لیکوال یا شاعر د حالات دومره ژور ادراک نه دی موندلی.هغۀ د هند د آزادئ په خاطر د هندوانو او مسلمانانو یووالي نه صرف جائیز ګڼي بلکه یو احسن یې بولي.

دوطن په آزادي که که پوهېدو څوک

د کانګریس په ملګری نه دی هندو څوک(17)

پښتنو راځی همت اتفاق وکړو          انګرېزانو زموږ ملت یو وړی په داړ(18)

د قاضي سلام بابا په شاعری کښي یو بل غوره اړخ دا هم دی چي   هغۀ د ظاهر بینۍ و کندي ته نه دی لوېدلی، هغۀ ملا دی، خو د دلیل قائل دی.

سلام بابا د کوږک د غرۀ په لمن کښي د شیلا باغ د کوږک ټنډېل سره نزدې  ژوند کاوه،خو هغه د خپل وخت دعلومو سره سره په سیاسي حالاتو بشپړه اګاه ؤ، هغۀ د دویم نړیوال جنګه وروسته چي کومه عالمي منظرنامه جوړېدونکي وه د هغۀ پر کړۀ وړۀ یې هم ژور نظر ؤ ، خو تر ټولو زیات دا چي سلام بابا خپله شاعري یواځي د باهرني دوښمن  په ضد نه ده کارولي، د هغۀ دویم مشهوره تصنیف "طلب مذهب"  زیاتره د ټولنیزي اصلاح مضامین لري،  چي په هغۀ کښي د ولور، د بدئ او دوښمنی، مذهبي منافرت، د مذهبي ډلي د استحصال،  او داسي ډېرو نورو موضوعاتو  په ډېر سخت  انداز خبره کړې ده، په زړۀ پوري خبره دا ده چي ملا سلام بابا په دې شاعری کښي پند کم او د یوه پوهه سپین ږیري د شفقته ډک خبتّم نغښتی دی (19).

پایله:

قاضي سلام بابا د انګرېز په ضد خپلي مبارزې ته په دوامداره توګه شل کاله دوام ورکړے دے ، هغهٔ چي به هر کلي، باندې او ښار ته تلو هم هلته به يې د پښتنو د محکوميت ستونزه دخلګو و مختهته يوې ستونزې په توګه کښېښوده او بيا به يې د محکوميت پر داخلي او خارجي دواړو لاملونو په حقله خپل شعرونه خلګو ته وړاندي کول.

که چيري موږ د قاضي سلام باباد شاعرانه اپروچ او د خلګو سره د مکالمې کولو لپاره دد ټولنيزو ګنجائيشونو ته ځير شو، نو په دې حقيقت رسيږو چي هغهٔ په يوه کليواله او غرنۍ سيمه کښې د يو داسي ژور سياسي اوټولنيز وژن شاعر ؤ چي د حالاتو د بدلولو لپاره يې په باقاعدګي سره شاعري پيل کړهٔ، او په ډېرو محدودو وسائلوکښې يې خپل کتاب په دې نيت چاپ کړ چي ګوندي پښتانه به د انګريزي استعمار په ضد صف آرا شي او د خپلو حالاتو دبدلون لپاره به د انګريزي سامراج ټولي هغهٔ دېسيسي شنډې کړي د کوم له کبله چي پښتون وطن د ماتېدو او مستعمر کېدو امکانات را پيدا شوي وو.

د هغهٔ سياسي وژن، اود ټولني د اصلاح تصور پخپله د هغهٔ فکر نتيجه دی، هغهٔ په شاعري کښې هيڅ ډول رومانوي او عشقيه مضامين نه دي راوړي، ځکه چي هغهٔ شاعري د خلګو د سياسي، ټولنيز، کلتوري او معاشي حالاتو دبدلولو لپاره د يوې آلې په توګه کار کړې وه په کوم کښې چي هغهٔ تر ډېره حده کاميابه شوے ؤاودګرامسي دخودرو منورينوپه مصداق په اولس کښې پاتي شو،داولس ځخه يې ازه کړه کوله اواولس ته يې دبدلون لپاره شعاراو شعورورکولو کښې مهمه رولولوبولو.

## حوالي :

1)کاکړ ، پوهاند ډاکټر محمد حسن. (۲۰۰۴).زما غوره ليکني. اسد دانش مطبه، کابل. مخ ۲۴۷

(2 Watson, P. (2010). The Gwerman genius; Europe's third renaissance, the second scientific revolution and the twentieth century, Smon and Schuster

3) Rahman, Dr Tariq. *Language Education and Culture .* New York : Oxford University Press , 1995.p.134

4) Germino, D. (1990). *Antonio Gramsci: Architect of a new politics*. LSU Press. p xvi

5) Chris, Barker (2004). *The Sage Dictionary of Cultural Studies*. SAGE Publications Ltd 1 Oliver's Yard
55 City Road London

6) Tickle, L. (2001). The organic intellectual educator. *Cambridge Journal of Education*, *31*(2), 159-178.

7) Kaufmann, D. (1991). Yuppie postmodernism. *Arizona Quarterly: A Journal of American Literature, Culture, and Theory*, *47*(2), 93-116.

8) اشيزی، قاضي ملا سلام. (۲۰۱۹). سوسن چمن، مرتب ډاکټر عبدالرؤف رفيقي،ډاکټر رفيقي خېړنيز مرکز، کاسي روډ کوئټهٔ . مخ ۴۹

9)هم دغه کتاب ۴۹

10)هم دغهٔ کتاب، مخ ۵۰

11) هم دغهٔ کتاب،دغهٔ مخ

12)هم دغهٔ اثر، مخ ۳۰

13)هم دغهٔ اثر، ۲۲۹

14)هم دغهٔ اثر، مخ۱۲۲

15)هم دغهٔ اثر ، مخ ۲۸

16)هم دغهٔ اثر، مخ ۲۳.

17)اخکزئي، ملا عبدالسلام. (۲۰۰۱). زردانه در . خپرونکی شمس طالع اخونزاده اشیزئي، کوټهٔ. مخ ۲۴

18) اشیزی، قاضي ملا سلام. (۲۰۱۹). سوسن چمن، مرتب ډاکټر عبدالرؤف رفیقي،ډاکټر رفیقي خېړنیز مرکز، کاسي روډ کوئټهٔ . مخ ۴۹

19) هم دغهٔ کتاب، مخ۳۰.